DTM AFGHANISTAN

# د تحرکاتو بنسټیزه ارزونه

کابل
د پایلي لنډیز
اوم پړاو . اکتوبر - ډسمبر ۲۰۱۸



په کابل ولایت کې اوس هم د پناه ځایونو وضعیت مناسب ندی، په خاصه توګه په غیر رسمي سیمو کې. که څه هم ګلدره ولسوالۍ کې ځیني داخلي بېځایه شوې کورنۍ په خیمو کې لمریزې برېښنا ته لاسرسی لري. © IOM ۲۰۱۸

## د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم (DTM)

د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم داسې یو سیستم دی چې د خلکو د بېځایه کېدنې او تحرک له بهیر څخه تعقیب او څارنه کوي. دا سیستم په سیستماټیک ډول د معلوماتو راټولولو، پراسس کولو او خپرولو لپاره جوړ شوی ترڅو وکولای شي د تحرکاتو او په سیمه او یا لاره کې د بېځایه شویو خلکو هغه اړتیاوو په هکله چې د بدلون په حال کې دي ښه پوهاوی منځ ته راولي. د DTM په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره www.displacement.iom.int/afghanistan څخه کتنه وکړئ.

په افغانستان کې، DTM د تحرک د ارزونې بنسټیزه وسیله کاروي ترڅو د تحرکاتو څخه څارنه، د جبري بېځایه شویو کسانو د نفوس کچه او موقعیت تشخیص، د بېځایه کېدو علت، اصلی سیمې، د بېځایه کېدو مهال، لومړني ډیموګرافیکي معلومات، زیانمنتیاوې او د اړتیاوو د لومړیتوبونو څخه څارنه وکړي. معلومات د کلیو په کچه د ډله ایزو بحثونو، مخامخ کتنو او کلیدي معلوماتو ورکوونکو سره د مرکې له لارې راټولېږي.

DTM پروګرام، د کډوالۍ نړیوال سازمان او ملګري سازمانونو ته دا پیاوړتیا ورکوي چې سرچینې په اعظمي توګه لوړې کړي او لومړیتوبونه وټاکي ترڅو د شواهدو پر بنسټ هدفمند، دوامداره او د حرکت پر وړاندې د پایدارو او حساسو بشردوستانه مرستو پروګرامونه وړاندې کړي او د ټولنې د بیا یوځای کېدنې، ثبات او پراختیا څخه ډاډ ترلاسه شي.

## ۵ د موخې وړ جمعیتونه

DTM د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې له لارې د لاندې ۵ اساسي جمعیتونو کټګوریو موقعیت، نفوس او څو سکټوریزې اړتیاوې څاري:

۱. بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي

هغه افغانان چې لږ تر لږه د ۶ میاشتو لپاره د هیواد څخه بهر اوسېدلي وي او اوس راستانه شوي وي

۲. بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان

هغه افغانان چې بهرنیو هېوادونو ته تللي او یا کډه یې کړې وي

داخلي بېځایه شوي په لاندې درېو کټګوریو وېشل شوي دي:

۳. داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښې

د ارزول شویو کلیو څخه هغه افغانان چې د داخلي بېځایه شویو په توګه یې خپلې سیمې پرېښې ترڅو د افغانستان دننه په یوې بلې سیمې کې ژوند وکړي

۴. رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان

د نورو سیمو څخه داخلي بېځایه شوي کسان چې اوسمهال په یوه ارزول شوي کلي کې ژوند کوي

۵. راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان

هغه افغانان چې د ارزول شویو کلیو څخه پخوا د داخلي بېځایه شویو په توګه تللي ول او اوسمهال خپلو کورونو ته بېرته ستانه شوي دي

۵ د موخې وړ جمعیتونو لپاره د نفوس د کچې معلومات د هغوی د بېځایه کېدنې پر مهال د دې زماني جوړښت پر بنسټ راټولېږي: ۲۰۱۲-۲۰۱۵ . ۲۰۱۶ . ۲۰۱۷ . ۲۰۱۸

## لنډه کتنه

**۱۵** ولسوالۍ وارزول شوې
**۵۳۷** کلي وارزول شول

**۲،۶۱۷**
کلیدي معلوماتو ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۱۹۲،۲۷۸**
بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۱۷۷،۵۶۳**
داخلي بېځایه شوي کسان په کوربه ټولنو کې ژوند کوي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۵۱،۳۴۶**
پخواني داخلي بېځایه شوي کسان اوس خپلو سیمو ته بېرته ستانه شوي[۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۵۷،۰۰۷**
کسان د هېواد څخه بهر ته کډوال شوي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۱۴،۴۷۴**
کسان اروپایي هېوادونو ته کډوال شوي (د ټولټال کډوالو له ډلې ۲۵٪)

**۵،۶۲۵**
راستنیدونکي او داخلي بېځایه شوي په خېمو او یا آزاده فضا کې ژوند کوي – کابل ولسوالۍ له ټولو نورو ولسوالیو څخه ډېره زیانمنه ده ځکه چې کابل ولسوالۍ کې ۴،۷۴۲ کسان پناه ځای ته اړتیا لري

**۵ څخه ۲**
د ټولو رارسېدلیو داخلي بېځایه شویو او راستنېدونکو له ډلې ۴۳٪ کسان په کابل ولسوالۍ کې ژوند کوي

**۲۳،۶۸۹**
کسان په کابل ولسوالۍ کې روغتیایي خدمتونو ته هېڅ لاسرسی نلري

**۱۲،۸۰۲**
کسان (۷۹٪ وګړي) په موسهي ولسوالۍ کې بازارونو ته هېڅ لاسرسی نلري

**۵ څخه ۱**
۲۰٪ کورنۍ په میر بچه کوټ ولسوالۍ کې ښوونځیو ته هېڅ لاسرسی نلري

**۵،۶۳۷**
کسان په کابل ولسوالۍ کې د څښاک اوبو ته هېڅ لاسرسی نلري

## په ټولو ۵ د موخې وړ جمعیتونو کې بېځایه شوي کسان | د ولسوالیو په کچه لنډه کتنه

| ولسوالی | مجموعي نفوس * | ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځايه شوي) | د نفوس سلنه | له بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي | د نفوس سلنه | داخلي بېځايه شوي چي خپلې اصلي سيمې يې پرېښې | د نفوس سلنه | رارسېدلي داخلي بېځايه شوي کسان | د نفوس سلنه | راستانه شوي داخلي بېځايه شوي کسان | د نفوس سلنه | بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | د نفوس سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| کابل | ۴,۱۱۷,۴۱۴ | ۱۵۷,۸۶۷ | ٪۴ | ۷۳,۰۰۸ | ٪۲ | ۹,۰۹۰ | ٪۰ | ۸۴,۸۵۹ | ٪۲ | ۲۳,۷۹۰ | ٪۱ | ۳۰,۱۶۵ | ٪۱ |
| ده سبز | ۵۹,۰۲۴ | ۳۶,۲۱۲ | ٪۳۸ | ۱۶,۱۲۲ | ٪۱۷ | ۰ | ٪۰ | ۲۰,۰۹۰ | ٪۲۱ | ۰ | ٪۰ | ۸۶۲ | ٪۱ |
| شکردره | ۸۹,۸۲۱ | ۲,۲۳۷ | ٪۲ | ۲,۱۶۷ | ٪۲ | ۱۱۵ | ٪۰ | ۷۰ | ٪۰ | ۶۶۷ | ٪۱ | ۹۲۷ | ٪۱ |
| پغمان | ۱۳۳,۴۶۰ | ۲۱,۰۸۶ | ٪۱۴ | ۱۹,۶۸۳ | ٪۱۳ | ۲,۰۳۸ | ٪۲ | ۱,۴۰۳ | ٪۱ | ۲,۰۱۰ | ٪۲ | ۴,۷۸۸ | ٪۴ |
| چهار آسیاب | ۴۰,۰۳۴ | ۳۵,۶۷۶ | ٪۴۷ | ۱۴,۹۳۵ | ٪۲۰ | ۷,۹۱۰ | ٪۲۰ | ۲۰,۷۴۱ | ٪۲۷ | ۹,۱۵۱ | ٪۲۳ | ۳,۳۰۲ | ٪۸ |
| موسهي | ۲۵,۵۳۴ | ۱۶,۱۱۳ | ٪۳۹ | ۸,۳۰۱ | ٪۲۰ | ۱۵,۵۴۶ | ٪۶۱ | ۷,۸۱۲ | ٪۱۹ | ۷,۳۴۹ | ٪۲۹ | ۴,۰۸۰ | ٪۱۶ |
| بگرامی | ۶۰,۵۶۴ | ۳۷,۳۰۵ | ٪۳۸ | ۱۴,۲۵۱ | ٪۱۵ | ۱۴۰ | ٪۰ | ۲۳,۰۵۴ | ٪۲۴ | ۱۴ | ٪۰ | ۱,۳۸۱ | ٪۲ |
| قره باغ | ۸۳,۴۰۴ | ۳,۵۹۱ | ٪۴ | ۲,۴۲۶ | ٪۳ | ۱,۹۲۴ | ٪۲ | ۱,۱۶۵ | ٪۱ | ۱,۵۱۴ | ٪۲ | ۱,۵۴۱ | ٪۲ |
| کلکان | ۳۳,۱۰۶ | ۲,۴۶۲ | ٪۷ | ۱,۸۴۸ | ٪۵ | ۱,۱۹۱ | ٪۴ | ۶۱۴ | ٪۲ | ۹۶۵ | ٪۳ | ۹۷۴ | ٪۳ |
| میربچه کوت | ۵۷,۱۰۰ | ۱۵,۳۰۰ | ٪۲۱ | ۱۴,۳۰۴ | ٪۲۰ | ۳۵۷ | ٪۱ | ۹۹۶ | ٪۱ | ۱,۸۵۸ | ٪۳ | ۳,۳۹۳ | ٪۶ |
| گلدره | ۲۵,۰۲۱ | ۶,۰۸۶ | ٪۲۰ | ۵,۵۶۱ | ٪۱۸ | ۱۷۵ | ٪۱ | ۵۲۵ | ٪۲ | ۱۰۴ | ٪۰ | ۶۲ | ٪۰ |
| خاک جبار | ۱۵,۶۵۵ | ۴,۰۱۵ | ٪۲۰ | ۳,۴۵۵ | ٪۱۸ | ۸۳۳ | ٪۵ | ۵۶۰ | ٪۳ | ۶۳ | ٪۰ | ۲۰۷ | ٪۱ |
| سروبی | ۶۰,۵۶۴ | ۲۳,۹۴۰ | ٪۲۸ | ۱۰,۰۳۱ | ٪۱۲ | ۳,۶۲۶ | ٪۶ | ۱۳,۹۰۹ | ٪۱۶ | ۱,۸۴۱ | ٪۳ | ۱,۱۰۹ | ٪۲ |
| استالف | ۳۶,۶۹۸ | ۲,۳۱۷ | ٪۶ | ۱,۵۰۳ | ٪۴ | ۱,۹۵۴ | ٪۵ | ۸۱۴ | ٪۲ | ۱,۰۸۷ | ٪۳ | ۱,۹۱۸ | ٪۵ |
| فرزه | ۲۳,۴۸۱ | ۵,۶۳۴ | ٪۱۹ | ۴,۶۸۳ | ٪۱۶ | ۲,۴۶۵ | ٪۱۰ | ۹۵۱ | ٪۳ | ۹۳۳ | ٪۴ | ۲,۲۹۸ | ٪۱۰ |
| مجموعه | ۴,۸۶۰,۸۸۰ | ۳۶۹,۸۴۱ | ٪۷ | ۱۹۲,۲۷۸ | ٪۴ | ۴۷,۳۶۴ | ٪۱ | ۱۷۷,۵۶۳ | ٪۳ | ۵۱,۳۴۶ | ٪۱ | ۵۷,۰۰۷ | ٪۱ |

** د نفوسو معلوماتي سرچینه: د ۱۳۹۷ (۲۰۱۸ – ۲۰۱۹) کال په اړه د احصائې او معلوماتو ملي اداری *(NSIA)* اټکل    سیمبولوجي: د موخې وړ جمعیت ≥ ۲۰۰,۰۰۰    د نفوس سلنه ≥ ۲۵٪



په کابل ولایت کې د پاکو اوبو سرچینو نشتوالي ډېری داخلي بېځایه شوې کورنۍ دې ته اړ کړي چې له سطحي سرچینو څخه اوبه وڅښي، لکه دا داخلي بېځایه شوي کسان چې په بګرامي ولسوالۍ کې له یوې ویالې څخه اوبه اخلي.© IOM ۲۰۱۸

## تګلار

د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیسټم د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې اصلي موخه په افغانستان کې د تحرکاتو او بېځایه کېدنې تعقیب ده ترڅو وکولای شي د بېځایه کېدوونکو، راستنېدونکو، کډوالو، پناه غوښتونکو، مرزي قبیله وي ډلو، کوچیانو او نړیوالو کارګرانو د نفوس، موقعیت او جغرافیاوي تقسیماتو په هکله اټکلونه وکړي. سربېره پر دې DTM د تحرکاتو په اړه نور معلومات هم راټولوي چې په دې معلوماتو کې د بېځایه کېدنې او راستنېدو لاملونه، اصلي او د موخې سیمې، د بېځایه کېدنې او راستنېدو مهال، بیاځلي بېځایه کېدنه، د جمعیتونو شمېر، د زیانمنتیا کچه او اولیه اړتیاوې شاملېږي.

DTM په عمده ډول د یوې سیمې د ارزونې لپاره د هماغې سیمې وګړي د سیمه ایزو کارکوونکو په توګه په کار ګماري. دا کارکوونکي له کلیدي معلومات ورکوونکو سره د ډله ایزو بحثونو له لارې د کلیو په کچه کمیتي معلومات راټولوي. سیمه ایز کارکوونکي د مستقیمو کتنو له لارې هم د ژوند شرایط، لومړني خدمات، امنیت او ټولنیز-اقتصادي حالت په اړه کیفي معلومات راټولوي.

د امنیتي خطرونو له امله سیمه ایز کارکوونکي نشي کولای سیمې ته سمارټ ټیلیفونونه یا ټابلیټونه انتقال کړي له همدې امله دوی هره ورځ د یوې کاغذي فورمې په وسیله معلومات راټولوي. په دې فورمه کې د تېر پړاو راټول شوي معلومات هم شتون لري ترڅو د موجوده معلوماتو له شتون څخه تایید وشي او د ارزونې پروسه په ګړندیتوب سره پر مخ ولاړه شي. بشپړې شوې فورمې هره اونۍ د DTM ولایتي دفتر ته سپارل کېږي ترڅو د ټیم مشر او د معلوماتو راجستر کوونکي له لورې ترې کتنه او تصویب وشي. کله چې دا فورمې تایید شوې نو د موبایلونو په مرسته په الکترونکي توګه د کوبو فورمونو له کارولو سره په مستقیم ډول د DTM مرکزي SQL کې چې په کابل کې دی ځای پرځای کېږي. وروسته بیا دا ډېټا یا معلومات هم په اتومات او هم په انفرادي توګه هره ورځ تصفیه او تایید کېږي. دا دقیقه بیاکتنه ډاډ ترلاسه کوي چې د DTM ډېټا ترټولو لوړ کیفیت، دقت او صداقت ولري.

کله چې DTM د لومړني ځل لپاره په یو ولایت کې ارزونه ترسره کوي نو ساحوي کارکوونکي معلومات یا ډېټا په دوه پړاونو کې چې دوه برخې لري راټولوي:

١. د ولسوالۍ په کچه ارزونه (B1): د دې ارزونې موخه د هغو کلیو پېژندنه ده چې ترټولو زیات افغان وګړي ورته تللي او یا ترې وتلي وي او د موخې وړ جمعیتونو شمېر په هکله اټکل کوي.

٢. د کلیو په کچه ارزونه (B2): دا ارزونه د B1 ارزونې د پایلو پر بنسټ د راغلیو او تللیو افغان وګړو په اړه د موخې وړ جمعیتونو لپاره په هغو کلیو کې معلومات راټولوي چې د B1 په ارزونه کې پېژندل شوي ول. د کلیدي معلومات ورکوونکو د راجع کولو وروسته نوي کلي هم تشخیص او ارزول کېږي.

څکه چې DTM ټول ۳۴ ولایتونه ارزولي دي په راتلونکي کې به یوازې د کلیو په کچه ارزونې ترسره شي. DTM په پام کې لري چې په کال کې به دوه ځلې د هېواد د کچه د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې ترسره کړي چې دا کار د بودجې د دوام پورې اړوند دی.

## کلیدي معلومات ورکوونکي

د DTM ساحوي کارکوونکي د کلیو په کچه معلومات له کلیدي معلومات ورکوونکو څخه د ډله ایزو بحثونو له لارې راټولوي. ساحوي کارکوونکي د ټولنې د ارزونې پر مهال د ژوندانه شرایط او د خوسکتیوریزو خدمتونو شتون هم ارزوي. په لږو مواردو کې داسې کېږي چې د امنیتي اندېښنو او یا د دولت د مخالفینو ډلو د بریدونو له امله، د DTM سیمه ایز کارکوونکي نشي کولای سیمې ته ولاړ شي نو غوښتنه او ډله ایز بحثونه د کلیو څخه بهر یا په خوندیو سیمو کې ترسره کوي او یا هم ارزونې د موبایل له لارې مخکې وړي.

DTM پروګرام په فعاله توګه وکولای شو د ښځینه کارکوونکو له ګمارلو سره په ډله ایزو بحثونو کې د جندر د شمولیت د لا ښه کولو لپاره لوی ګام واخلي، که څه هم دا یو ننګونکی کار وه. سره له دې اوس هم پرمختګ ته اړتیا شته. که څه هم په کابل ولایت کې د کلیدي معلوماتو ورکوونکو له ډلې څخه یوازې ۱۱٪ یې ښځې دي خو دا شمېر د هېواد په کچې ښځینه کلیدي معلومات ورکوونکو شمېر (۴٪) په پرتله پرمختګ ښیي.

**۲،۶۱۷**
کلیدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۲۱۷**
کلیدي معلومات ورکوونکي یا راستنېدونکي دي او یا هم داخلي بېځایه شوي (۸٪)

**۳۰۰**
ښځینه کلیدي معلومات ورکوونکي (۱۱٪)

**۴۹۹**
له کوربه ټولنو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۱۹٪)


**۲،۳۱۷**
نارینه کلیدي معلومات ورکوونکي (۸۹٪)

**۹۱۱**
خوسکتیوریزو او ټولنیزو خدماتو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۳۵٪)


**۴،۶**
په هرې ډله ایزې مرکې کې د کلیدي معلومات ورکوونکو اوسط شمېر

**۸۵۳**
له سیمه ایزو چارواکو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۳۳٪)

د دول پر بنسټ کلیدي معلومات ورکوونکي | کابل




د دول او جنسیت پر بنسټ کلیدي معلومات ورکوونکي | کابل



# بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي

راستنېدونکي هغه افغانان دي چې په بهرنیو هېوادونو کې لږترلږه د شپږو میاشتو تېرولو وروسته بېرته افغانستان ته ستانه شوي او په ارزول شویو سیمو کې ځای پر ځای شوي وي. راستنېدونکي دوه ډوله دي: اسناد لرونکي راستنېدونکي (هغه کډوال چې په کوربه هیوادونو کې راجستر شوي وي او وروسته بیا UNHCR او اړوند حکومتي چارواکو ته یې د رضاکارانه راستنېدلو غوښتنه کړې وي) او اسناد نلرونکي راستنېدونکي (هغه افغانان چې په خپله خوښه راستانه شوي او یا شړل شوي دي، پرته له دې چې دا په پام کې ولرو چې له UNHCR او اړوند حکومتي چارواکو سره ثبت ول او که نه).

بهرنیو هېوادونو څخه کابل ولایت ته د راستنېدونکو شمېر د ۲۰۱۲-۲۰۱۵ دورې په پرتله په ۲۰۱۶ کال کې ٪۵۳ زیاتوالی ښیي او په ۲۰۱۸ کال کې د ۲۰۱۷ کال په پرتله ٪۶۷ کموالی ښي. له ۲۰۱۲ تر ۲۰۱۸ کال پورې کابل ولسوالۍ د ټولو نورو ولسوالیو په پرتله د زیات شمېر راستنېدونکو کوربه وه: ۶۸،۰۷۸ (د کابل ولایت له ټولو راستنېدونکو څخه ٪۳۵ کسان)

**۱۹۲،۲۷۸**
بهرنیو هېوادونو څخه راستنیدونکي


**۱۳۴،۵۲۷**
پاکستان څخه راستنېدونکي (٪۷۰)


**۶۹،۱۶۴**
له ایران + پاکستان څخه اسناد نلرونکي راستنیدونکي (٪۳۹)


**۴۴،۲۵۷**
ایران څخه راستنیدونکي (٪۲۳)


**۱۰۹،۶۲۰**
له ایران + پاکستان څخه اسناد لرونکي راستنیدونکي (٪۶۱)


**۱۳,۴۹۴**
غیر ګاونډیو هیوادونو څخه راستنیدونکي (٪۷)




# رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان

دا کسان هغه افغانان دي چې د نا امنـي یا وسله والو جګـړو، تاوتریخوالـی، د بـشري حقونو سرغړوني، د خوندیتوب اندیښني او د طبیعي پیښو یا د انسان په لاس جوړي شـویو پیښو څخه د خوندیتوب په موخه خپلو سیمو څخه بېځایه شـوي دي او ارزول شـوي/ کوربه ټولنو ته تللي او هلته ژوند کـوي.

**۱۷۷،۵۶۳**
په کوربه ټولنو کې مېشت داخلي بېځايه شوي کسان

**۸۳٪**
د کړکېچ له امله بېځایه شوي


**۸۴،۸۵۹**
کابل ولسوالی کې مېشت داخلي بېځايه شوي کسان – د ولایت په کچه تر ټولو لوړ شمېر

**۱۷٪**
د طبیعي پیښو له امله بېځایه شوي


**۹,۰۳۰**
داخلي بېځایه شوي په غیر رسمي سیمو کې مېشت دي (۵٪)

**۲۶٪**
په خپل اصلي ولایت کې بېځایه شوي


رارسېدلي داخلي بېځايه شوي کسان | کلنی بهیر | کابل





د اصلي ولایت پر بنسټ رارسېدلي داخلي بېځايه شوي کسان | کابل





د ولسوالی پر بنسټ رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان | کابل





د ولسوالی پر بنسټ غیر رسمي سیمو کې مېشت داخلي بېځایه شوي کسان | کابل




رارسېدلي داخلي بېځايه شوي کسان | پناه ځای | کابل



# ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځایه شوي)





## ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي) د ولسوالۍ پر بنسټ لنډیز

| ولسوالۍ | راستنېدونکي | رارسېدلي داخلي بېځایه شوي | ټولټال راغلي کسان |
|---|---|---|---|
| کابل | ۷۳,۰۰۸ | ۸۴,۸۵۹ | ۱۵۷,۸۶۷ |
| بګرامي | ۱۴,۲۵۱ | ۲۳,۰۵۴ | ۳۷,۳۰۵ |
| ده سبز | ۱۶,۱۲۲ | ۲۰,۰۹۰ | ۳۶,۲۱۲ |
| چهار آسیاب | ۱۴,۹۳۵ | ۲۰,۷۴۱ | ۳۵,۶۷۶ |
| سروبي | ۱۰,۰۳۱ | ۱۳,۹۰۹ | ۲۳,۹۴۰ |
| پغمان | ۱۹,۶۸۳ | ۱,۴۰۳ | ۲۱,۰۸۶ |
| موسهي | ۸,۳۰۱ | ۷,۸۱۲ | ۱۶,۱۱۳ |
| میربچه کوټ | ۱۴,۳۰۴ | ۹۹۶ | ۱۵,۳۰۰ |
| ګلدره | ۵,۵۶۱ | ۵۲۵ | ۶,۰۸۶ |
| فرزه | ۴,۶۸۳ | ۹۵۱ | ۵,۶۳۴ |
| خاک جبار | ۳,۴۵۵ | ۵۶۰ | ۴,۰۱۵ |
| قره باغ | ۲,۴۲۶ | ۱,۱۶۵ | ۳,۵۹۱ |
| کلکان | ۱,۸۴۸ | ۶۱۴ | ۲,۴۶۲ |
| استالف | ۱,۵۰۳ | ۸۱۴ | ۲,۳۱۷ |
| شکردره | ۲,۱۶۷ | ۷۰ | ۲,۲۳۷ |
| مجموعه | ۱۹۲,۲۷۸ | ۱۷۷,۵۶۳ | ۳۶۹,۸۴۱ |


په عمومي توګه کابل ولایت له ټولټال ۳۶۹،۸۴۱ راستنېدونکو او داخلي بېځایه شویو څخه کوربه توب کوي چې ۵۲٪ (۱۹۲،۲۷۸ کسان) راستنېدونکي او ۴۸٪ (۱۷۷,۵۶۳ کسان) داخلي بېځایه شوي دي. په لاندې جدول کې د کابل ولایت ۲۰ کلي ښودل شوي چې ترټولو زیاتو بېځایه شویو او راستنېدونکو راتګ څخه اغیزمن شوي. دا ۲۰ کلي (د کابل ولایت ۵۳۷ ارزول شویو کلیو څخه ۴٪) د ټول ولایت ۲۱٪ راستنېدونکو او داخلي بېځایه شویو څخه کوربه توب کوي. دا کلي د ټولنو بې ثباتۍ پر وړاندې چې د راستنېدونکو او داخلي بېځایه شویو لوړ شمېر راتګ سره رامنځ ته شوې حساس او زیانمن دي او دا کار له پخوا نه محدودې شوې سرچینې او کاري فرصتونو لا نور هم محدود کوي. له دې ۲۰ زیانمنو کلیو څخه ۶ کلي یې په کابل ولسوالۍ کې موقعیت لري او د دې جدول ۴۳٪ (۳۲,۴۳۱) راستنېدونکو او داخلي بېځایه شویو څخه کوربه توب کوي.

## ۲۰ لومړني کلي چې تر ټولو زیات راستنېدونکي او داخلی بېځایه شوي لري

| رده بندی | کلي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|---|
| ۱ | شهرک اتفاق | کابل | ۱۲,۷۲۴ |
| ۲ | حصه اول چهلستون | کابل | ۵,۶۰۹ |
| ۳ | تره خیل | ده سبز | ۵,۰۲۱ |
| ۴ | ګذره تنیکوت | کابل | ۴,۸۶۷ |
| ۵ | ګذره عقبی تخنیکم | کابل | ۳,۶۹۷ |
| ۶ | نو آباد خیر آباد | چهارآسیاب | ۳,۶۶۳ |
| ۷ | قلعه سلیم شاه | فرزه | ۳,۴۱۲ |
| ۸ | لوی کلی (۲) | سروبي | ۳,۴۰۷ |
| ۹ | بختیاران | ده سبز | ۳,۲۱۷ |
| ۱۰ | شاه شهید | کابل | ۳,۲۰۰ |
| ۱۱ | حاجی نوآباد | ګلدره | ۳,۱۱۲ |
| ۱۲ | تنګی غارو | ده سبز | ۳,۰۵۸ |
| ۱۳ | بګرامي | بګرامي | ۳,۰۵۶ |
| ۱۴ | پایمنر | ده سبز | ۲,۸۸۱ |
| ۱۵ | علی خیل انګور باغ | چهارآسیاب | ۲,۷۹۴ |
| ۱۶ | صافی کوت | ده سبز | ۲,۷۰۵ |
| ۱۷ | تپه چهار | سروبی | ۲,۵۹۲ |
| ۱۸ | نوآباد | بګرامي | ۲,۵۴۵ |
| ۱۹ | قلعه برقی | کابل | ۲,۳۳۴ |
| ۲۰ | آلوخیل | بګرامي | ۲,۳۲۲ |
| | | مجموعه | ۷۶،۲۱۶ |



د ولسوالۍ پر بنسټ ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځایه شوي)



د راستنېدونکو د موخې ور ولسوالۍ ګانې

# داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښي

دا هغه افغانان دي چې لـه یـوې ارزول شـوې سـیمې څخـه چـې هلته یـې پخوا ژونـد کاوه د افغانسـتان دننـه یـوې بلـې سـیمې ته تلـلي دي تر څو د وسـله والـو جګـړو، تاوتریخوالي، د بـشري حقونـو سرغړونـې، د خونديتوب اندیښـنې او طبیعی پېښـو یا د انسان پـه لاس جوړو شـویو پېښـو څخه خوندي ووسي.


**۴۷،۳۶۴**
داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښي

**۷۰٪**
په عین ولایت کې نورو سیمو ته تللي دي


**۶۱٪**
د کړکېچ له امله بېځایه شوي


**۳۹٪**
د طبیعي پېښو له امله بېځایه شوي

د ولسوالۍ پر بنسټ داخلي بېځایه شوي کسان چې خپلې اصلی سیمې یې پرېښي | کابل




داخلي بېځایه شوي کسان چې خپلې اصلی سیمې یې پرېښي | کلنی بهیر | کابل




د هغو داخلي بېځایه شویو اصلي ولسوالۍ کانې چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښي

# راستانه شوي داخلي بېځايه شوي کسان

راستانه شوي داخلي بېځايه شوي هغه افغانان دي چې خپلو سيمو ته چې ارزول شوې سيمې دي او پخوا يې پرېښې وې بېرته ستانه شوي دي. دوی پخوا له دې سيمو څخه تللي ول ترڅو د وسله والو جګړو، تاوتريخوالي، د بشري حقونو سرغړونې، د خونديتوب انديښنې او طبيعي پيښو يا د انسان په لاس جوړ شويو پېښو له اغېزو څخه خوندي ووسي.


**۵۱،۳۴۶**
راستانه شوي داخلي بېځايه شوي

**۹۱٪**
وګړي د ولايت دننه نورو سيمو څخه راستانه شوي


**۴ څخه ۳**
پخواني داخلي بېځايه شوي کسان يوازې ۳ ولسواليو ته راستانه شوي: کابل، چهار آسياب، او موسهي (۷۸٪)


**۲ څخه ۱**
د ټولو راستانه شويو داخلي بېځايه شويو له ډلې ۴۶٪ کسان کابل ولسوالۍ ته راستانه شوي

د ولسوالی پر بنسټ راستانه شوي داخلي بېځايه شوي کسان | کابل




راستانه شوي داخلي بېځايه شوي کسان | کلنی بهیر | کابل




د راستانه شويو داخلي بېځايه شويو د راستنېدو ولسوالۍ کانې

# بهرنيو هېوادونو ته کډوال شوي کسان

دا هغه افغانان دي چې لـه يوې ارزول شـوې سـيمې څخه د هـر دليل، عامل او يا مـودې لپاره له هېـواد څخـه بهـر تلـلي او يـا کډوال شـوي دي. په دې کټګورۍ کې پناه غوښـتونکي، بېځايه شـوي کډوال او هغه کسان شـامليږي چې افغانسـتان پې د اقتصادي سـتونزو له امله پرېښـی وي.


**۵۷،۰۰۷** د هېواد څخه بهر تللي دي

**۱۴،۴۷۴** اروپايي هېوادونو ته تللي دي (۲۵٪)


**۲۴،۱۴۲** ايران ته تللي دي (۴۲٪)

**۱۳،۵۳۵** پاکستان ته تللي دي (۲۴٪)


بهرنيو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | کلنۍ بهير | کابل





د ولسوالۍ پر بنسټ بهرنيو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | کابل





ترکيه او اروپايي هېوادونو ته کډوال شوي کسان | کلنۍ بهير | کابل





ايران ته کډوال شوي کسان | کلنۍ بهير | کابل




د هېواد پر بنسټ بهرنيو هېوادونو ته کډوال شوي کسان/د موخې سيمه | کابل




پاکستان ته کډوال شوي کسان | کلنۍ بهير | کابل



# سکټوریزي اړتیاوي

## ۵ لومړیتوب لرونکي ولسوالۍ

مرستو او لومړنیو خدمتونو لپاره د شواهدو پر بنسټ لومړیتوب ورکول اړین دي. DTM د ولایت، ولسوالۍ او کلیو په کچه، د څو شاخصه سکټورونو پر بنسټ همکارو سازمانونو ته د لومړیتوب لرونکو سیمو یا د هغو سیمو لسټ چمتو کوي چې ترټولو زیات مرستو ته اړتیا لري.

(یاددښت: د هغو کسانو شمیر چې لاندې یې راپور ورکړ شوی د ټولټال راغلیو کسانو (داخلي بېځایه شوي+ راستنېدونکي) پر بنسټ دی).

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې تر ټولو زیات راستنېدونکي او داخلي بېځایه شوي لري (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | کابل | ۱۵۷,۸۶۷ |
| ۲ | بګرامي | ۳۷,۳۰۵ |
| ۳ | ده سبز | ۳۶,۲۱۲ |
| ۴ | چهارآسیاب | ۳۵,۶۷۶ |
| ۵ | سروبي | ۲۳,۹۴۰ |
| | **عمومي مجموعه** | **۲۹۱,۰۰۰** |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې پناه ځای ته اړتیا لري (راستنېدونکي+داخلي بېځایه شوي چې په خېمو او آزاده فضا کې ژوند کوي)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | کابل | ۴,۷۴۲ |
| ۲ | قره باغ | ۳۶۹ |
| ۳ | فرزه | ۳۴۷ |
| ۴ | بګرامي | ۱۲۴ |
| ۵ | چهارآسیاب | ۳۶ |
| | **عمومي مجموعه** | **۵,۶۱۸** |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې د ښکاک اوبو ته اړتیا لري (د ښکاک اوبه > ۳ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | کابل | ۵,۶۳۷ |
| ۲ | قره باغ | ۲,۶۴۶ |
| ۳ | کلکان | ۲,۴۶۲ |
| ۴ | استالف | ۱,۴۴۳ |
| ۵ | فرزه | ۷۲۴ |
| | **عمومي مجموعه** | **۱۲,۹۱۲** |

### پنځه‌لومړنۍ‌ولسوالۍ‌چې‌روغتیايي‌ځانګو ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې کلینیک >۵ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | چهارآسیاب | ۶,۸۳۷ |
| ۲ | ده سبز | ۱۵,۹۶۱ |
| ۳ | سروبي | ۱۳,۷۰۳ |
| ۴ | کابل | ۲۳,۶۸۹ |
| ۵ | میربچه کوت | ۶,۶۹۷ |
| | **عمومي مجموعه** | **۶۶,۸۸۷** |


### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې ښوونځۍ ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې ښوونځۍ >۳ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | بګرامي | ۲,۷۱۶ |
| ۲ | ده سبز | ۴,۱۴۲ |
| ۳ | کابل | ۱۲,۱۲۱ |
| ۴ | ګلدره | ۱,۹۷۳ |
| ۵ | میربچه کوت | ۳,۰۱۴ |
| | **عمومي مجموعه** | **۲۳,۹۶۶** |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې بازار ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې بازار > ۱۰ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | خاک جبار | ۱۹۶ |
| ۲ | ده سبز | ۱,۱۷۶ |
| ۳ | کلکان | ۵۶۷ |
| ۴ | موسهي | ۱۲,۸۰۲ |
| ۵ | شتون نلري | شتون نلري |
| | **عمومي مجموعه** | **۱۴,۷۴۱** |

ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځايه شوي) | پناه ځای | کابل




## د یوه بېځایه شوي کیسه

### د کمځورتیا له احساس څخه نورو ته مرسته رسولو پورې

شل کاله مخکې بلواګرو د ده سبز په ولسوالۍ کې د فضل عمر په کلي برید وکړ او د کورونو، څارویو، هټیو او ځمکو په ګډون یې هرڅه وسوځول او کلیوال یې مجبور کړل چې خپل د ژوند ژغورلو لپاره کلی پرېږدي او وتښتي.

” یوه تیاره شپه وه کله چې اندېښنې او وېرې په کلي کې خپرې وې. خلکو به چیغې وهلې او ماشومانو به ژړل. کله چې زه بهر ولاړم نو کتل مې چې هر چا به خپل کورونه پرېښودل او غرونو ته به تښتېدل. د دې حال په کتلو سره ډېر حیران شوم چې خلک ولې خپل کلی پرېږدي. هیڅ چا خبرې نه کولې او هرڅوک په خپل ځان اخته وه. د څو دقیقو وروسته ما بلواګر ولیدل چې کورونه به یې سوځول، څاروي یې وژل او بې ګناه نارینه او ښځې یې وهلې. زه هم سمدلاسه کور ته ولاړم او خپل ماشومانو او ښځې سره وتښتېدم. مونږ هرڅه پرېښودل او د کابل ولایت سروبي ولسوالۍ ته ولاړو.”

فضل عمر او د هغه کورنۍ د سروبي په ولسوالۍ کې له یوې کوربه کورنۍ سره پاتې شول ځکه چې هغوی په خپله هېڅ هم نه درلودل. د یوې لنډې مودې وروسته هغه د ښو فرصتونو په لټه کې د خپلي کورنۍ سره پاکستان ته ولاړ. هغه هلته هم ښه فرصت نشو موندلی ځکه چې سواد یې نه درلوده او یوازې یې د مزدور کار په توګه کار کولای شو. هغه د لسو کلونو څخه زیاتې مودې لپاره پاکستان کې کار وکړ او په پاې کې یې پریکړه وکړه چې خپلې کورنۍ سره بېرته افغانستان ته راستون شي ځکه چې د تابعیت نه درلودلو له امله یې ماشومانو نشو کولای د لومړنې زدکړې د پای وروسته خپلو پاتې زدکړو ته دوام ورکړي.

په ۲۰۱۳ کال کې هغه بېرته خپل کلي ته ولاړ ترڅو ماشومان یې د زدکړې لپاره ښه لاسرسۍ ولري. په لومړیو کې هغه د بزګر په توګه کار پیل کړ خو دومره ګټه یې نه کوله، نو هغه پرېکړه وکړه چې د یو موسم لپاره یو هکتار ځمکه اجاره کړي او رومیان پکې وکري. د ډېر زحمت او ښو طالو له برکته د فضل عمر کار ډیر په ښه توګه پر مخ ولاړ او یو هکتار اجاره شوې ځمکه یې په ۲۰۰ هکتاره اجاره شوې ځمکې تبدیله شوه. هغه هلته ۱۵ کسان هم په کار وګمارل او د میاشتې له ۵۰،۰۰۰ افغانیو څخه تر ۱۰۰،۰۰۰ افغانیو پورې عاید لري.

* د یادونې وړ ده چې په دې کیسې کې نومونه بدل شوي او د سیمې نوم نده یاد شوی ترڅو د هغوی پېژندګلوۍ خوندۍ ووسي.



په پاکستان کې د ستونزمن وضعیت ګاللو وروسته د فضل عمر کوښښونو په افغانستان کې ښه پایله درلوده وروسته له دې چې هغه یوه ځمکه په اجاره ونیوله وېشو کولای چې له خپلې کورنۍ څخه ملاتړ وکړي او ۱۵ نورو کسانو لپاره هم د کار فرصت برابر کړي. © IOM ۲۰۱۸

International Organization for Migration
Route des Morillons 17
P.O. box 17
Geneva 19 1211
Switzerland

د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM)
کور #۲۷
سړک ۴
د انصاري څلورلاره
شهر نو
کابل، افغانستان

هغه معلومات چې په دې راپور کې کارول شوي د IOM-افغانستان سازمان او د DTM نړیوال ملاتړ ټیم په ګډې همکارۍ راټول شوي دي. هغه مسایل او توکي چې د کار په ترڅ کې کارول شوي په هېڅ بڼه د کوم هېواد قانوني حالت، ملکیت، سیمه او یا هم د هغه د چارواکو او یا مرزونو په هکله د کډوالۍ د نړیوال سازمان له هېڅ نظر یا باورونو پورې اړوند ندي.

د کډوالۍ نړیوال سازمان (© IOM ۲۰۱۸)

د لا زیاتو معلوماتو لپاره او د ډاونلوډ وړ نقشو، ډېټابېسونو، متحرکو نقشو او داشبورډونو ته د لاسرسي لپاره مهرباني وکړئ د DTM-افغانستان انټرنټي پاڼه وګورئ.

www.displacement.iom.int/afghanistan

**مونږ سره په اړیکه کې شئ**

د لا زیاتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ د DTM ټیم سره په اړیکه کې شئ:

DTMAfghanistan@iom.int

facebook.com/iomafghanistan

twitter.com/iomafghanistan

instagram.com/iomafghanistan

په افغانستان کې د ډي ټي ام مالي ملاتړ کوونکي

Canada · MOFAT · Norwegian Ministry of Foreign Affairs · Italian Agency for Development Cooperation · Co-funded by the European Union · په همغږي سره